# ادبی صنایع



مولف: عدالرووف محبوب صافی

مهتمم: م. نبی هیکل

کال ۲۰۲۱ / ۱۴۰۰

# ادبی صنایع

لفظی صنایع - قافیه

له انگلیسی معادلونو سره


## مولف: عبدالرووف محبوب صافی

## مهتمم: م. نبی هیکل



خپریدو بڼه: پی. دی. اف.

دخپریدو نیټه: ۰۶/۰۳/ ۱۴۰۰

۲۷/۰۵ /۲۰۲۱

دخبریدو ځای: لاهه- هالند

# تقریظ

مولانا محبوب صافی چه د پښتو ژبې ښوونکی او بیا د بدیع، بیان او عروضو علم کښې لاس لری، د پښتو ژبې شاعر هم دی. دا کتاب چه (صنعت الالفاظ) په نوم یادیږی په رښتیا د الفاظو صنعت دی، او ښاغلی حق لری چه په صنعت الالفاظ یې مسمی کوی.

البته لوستونکی به د صنعت الالفاظ په لوست محظوظ شی. ځکه دی کتاب کښې ښاغلی د هڅو او کو ښښ څخه کار آخیستی، په ساده اوروانه ژبه چه له نامانوسو الفاظو پاک ښکاری، تالیف کړیدی.

او، اوس چه د شعر او شاعری لمنه ارته او د شعر بازار زښت ډیر تود او رنګین ښکاری-او خصوصآ د هیواد په هر ګوټ کښې د پښتو ژبې پیاړوی شاعران لیده شی، لدی کبله د نوموړی (صافی) دا تالیفات هر شاعر لره پکار ځی.

شاعر او ادیب چه د یو هیواد اد بیات، د یو محیط په عنعناتو پوه وی، د هغه د آثارو او افکارو څخه د چاپیریال علمیت او پرمختګ په ښه شانی ښکاری-او کولای شو د شاعر له آثارو او افکارو د محیط انکشاف او تمدن ځانله معلوم کړو.

افغانان او پښتانه په دی ویاړی او نازیږی چه د پښتو ژبې په شا او خوا کښې څه ناڅه تالیفات منځ ته راشی او د پښتو ادبیات د پرمختګ له مخې د علم په ستنو ښه استوار ولیدل شی. دلته چه (صافی) زیار ایستی د (صنعت الالفا ظ) په نوم کتاب جوړ کړی نو ددی کتاب په مخ کولای شو د نوموړی علمیت، لیاقت او شاعری معلومه کړو او دده پوهه د بدیع، بیان او عروضو علم په اړخونو کښې شه و ستایو.

پای

دین محمد ( سامی) ساپی

# د مولف سره پیژند گلوی

د فردی او ټولنیز تاریخ ثبتول یو ډیر گران کار دی. نه یواځی د تاریخ نه هاخوا کله چی لیک او لوست سره خلک آشنا نه ول، تر ډیره دمه د نو رو علایمو او نښو څخه گټه آخیستل کیده ترڅو د یو شی د زیږندی او یا مړینی یا د یو شی د تگ او راتگ وخت و ټاکی. کله چی ساعت نه وه نو د لمر او سپوږمی طلوع او غروب څخه به د گړیو او ورځو او میاشتو په پوهیدو کی استفاده کیدله. تر دیره وخته د شاهانو دوره یا یوه بله حادثه د یادداشت لپاره پکاریده.

زما د گران پلار د ژیږیدو نیټه به یی په یاد وه او که نه وه خو ما هیڅکله یی د پوهیدو هڅه نه وه کړی – ځکه ماته مهمه نه وه. هغه وخت کی هم حکومتی اداری دی کارته دومره اهمیت نه ورکاوه. که د پلار د زیږیدنی نیټه می نده زده- نو ر ډیر مهم شیان می په یاد دی چی لوستونکو ته هم د پام او اهمیت وړ دی. دزیږدلو نیټه او س وخت کی ډیر ارزښت لری خو تر ټولو مهمه داده چی له زیږیدو تر مړینی مو خلکو ته او خپل ځان لپاره د دی نړی خلکو ته او ډارالبقا ته څه کړی دی.

محبوب صافی دیوبندی کی یی تحصیل کړی وه او تول خلک یی د مولانا او استاد په نامه پیژانده. هغه د پښتو ژبی معلم وه او ټول عمر یی له تعصبه پرته شمالی ولایتونو کی تدریس کړی. مر حوم صافی ډیر علمی آثار او د پښتو او دری شعرونو یوه مجموعه لری. د محبوب صافی دغه لاندینی اثار د هیواد د جگړو او بدبختیو قربانی شوی او یواځی صنعت الالفاظ، قافیه او د شعرونو ځینی یادښتونه را پاتی دی.

د مولانا محبوب صافی قلمی آثار:

١. صنعت الالفاظ

٢ .صنعت المعانی

٣. محبوب العروض

۴. ایقاظ المبتدی

۵ .میزان الکلام

٦. اساس الرقایم

٧. زینت التقریر

٨. تاریخ البشر

۹ . دیوان شعر

۱۰. قافیه

مولانا عبالرووف محبوب صافی د ملا محبوب زوی چی د لغمان ولایت د عمر زیو په کلی کښی زیږیدلی او عمر یی په کابل او شمالی و لایتون کی په معلمی تیر کړی- په ۱۳۷۱ کال کی د عید اضحی په اوله ورځ یی کابل کی د اجل داعیی ته لبیک ووایه. روح یی د تل لپاره ښاد او یاد یی روښانه!

م. نبی هیکل

لاهه ۲۰۲۱ / ۱۴۰۰ ه ش

# I

# لفظی / ادبی صنایع

# II

# قافیه

# سرلیکونه

۱.مقدمه

۲.ترصیع

۳.مربع

۴ .ملمع

۵ .ذو لسانین

٦.ردالعجز علی الصدر

۷ .اسجاع

۸.غیر منقوط

۹.اعنات

۱۰.تجنیسات

۱۱ .رقطا

۱۲ .منقوط

۱۳ .موصل

۱۴ .خیفا

۱۵ .اشتقاق

۱٦.مقلوب

۱۷ .لغز

۱۸.معما

۱۹ .ذوالقافیتین

۲۰.ذوالقافیتین مع الحاجب

۲۱ .تضمین

۲۲ .ردالمطلع

۲۳ .مقطوع

۲۴ .حذف

۲۵ .مشجر

# II

# قافیه

اهدا

د پښتو شعر او ادب لیوالو ته!

## مننه

د دوه ډلو څخه د زړه له کومې مننه کوم : د کورنۍ غړو او ملګرو څخه چې د داسې یو نیک عمل په ترسره کولو یې تشویق کړی یم او له هغو ملګرو او لوستونکو څخه چې د دغې ر سالې په خپرولو او توزیع کې برخه آخلي. د پوهې خپرول نه یواځې یو انساني او اخلاقي مکلفیت دی بلکه دیني او اخروي اجر هم ګڼل کیږي.

د دې اثر قلمي نسخه د دوو ښاغلو په همت سره ترتیب او لیکل شوی وه. دواړو ته د څښتن تعالی له درباره مغفرت غواړم او د هغوی له زحماتو څخه د هغوی په فیزیکي غیابت کې مننه کوم چه دا رساله په ښه ترتیب او ښکلي قلم د چاپ لپاره په ۱۳۳۹ هجری لمریز کال - هغه وخت کې آماده کړې وه چې د پې. دی. ایف فارمت شتون نه درلود او د چاپ صنعت ته هم لاس –رسی آسانه نه وه.

مولانا محبوب صافي په خپله د قلمي نسخې له مهتممانو څخه داسې مننه کړې:
(د دې کتاب په اوډنه کې ښاغلو امین الله خان (جراز) او محمد الله خان ( سدیدی) قلمي مرستي کړې دي. ترڅو مې روح په تن ده تري شاکریم.)

# د مهتمم یاددښت

دځان و یاړ گنم چی په دی توگه د خپل گران پلار- لوی معلم ا و روزونکی مرحوم مولانا عبدالروف صافی ښیگڼو او محبت قدر ادا کوم. له ډیره وخته می دا آرزو وه چی دمرحوم پلار آثار د چاپ لپاره آماده کړم- خو د ژوند ناخوالی، سیاسی پیښی او خونړی جگړی له یوی خوا او د مهاجرت پر له پسی څپیړی له بلی خوا، نه یواځی د ځنډ سبب شول- بلکه د محبوب صافی ډیرو آثارو د ورکیدو لامل هم وگرځید.

بله ستونزه د پښتو کیبورد نشتوالی وه چی همدا اوس هم د پښتو یا گانو د لیکلو امکان را سره نشته. د نیکمرغی ځای ده چی په افهام او تفهیم کی دومره ستره اغیزه نه کوی .

دا اثر د مرحوم مولانا محبوب صافی د علمی یادگار په توگه خپریږی او له کم او زیاتی پرته په امانتداری سره په پ. دی. اف. فارمت کی تاسو ته وړاندی کیږی. دا اثر یوه خاصه ځانگړتیا لری چی د لفظی صنایعو بیلگی پخپله د محبوب صافی شعرونه دی.

د دی اثر لومړی برخه د لفظی صنایعو په هکله او دویمه برخه یی د قافیی په هکله ده.

بدیع او بیان کی لږ قلمی او علمی لیکنی شوی دی. د الفت صاحب د (بدیع او بیان) کتب څخه پرته ماته کوم بل اثر په یاد نه راځی خو هغه څه چی د ارزښت وړ دی داده چی په علمی او قلمی ذخایرو کی به دا اثر خپل ځای ولری.

و من الله توفیق

م. نبی هیکل

د مهتمم سریزه

ټول هغه اثار چې د لفظي صنايعو ادبي فنونو په هکله ليکلي شوي باید مبتدیانو ته د ادبیاتو په هکله یو څه معلومات ورکړل شي. ادبي فنون یا ادبي صنایع چه په دا تالیف شوي اثر کې ور سره پيژندګلوي ترلاسه کيږي د عربي نړۍ د کار پايله ده. په دي سریزه کښي په دي هکله نه یواځې معلومات تر لاسه کيږي چې د شعر او شاعري - لفظي صنايع او فنون کله او د کومو خلکو لخوا را مينځته شوي- بلکه د ادبیاتو تعریف په هکله به هم یو څه معلومات تر لاسه کړو. ځيني انګليسی معادلونو سره به هم پيژندګلوي تر سره کړو. د پښتو د ژبې په هکله به هم لو ستونکو ته په دغه سریزه کښي معلومات و ړاندي شي. په دي توګه دا او سني اثر له ډيرو نورو اثارو سره به توپير ولري.

د محمد ابن جزیل؟ نوم سره در عروضو د مخترع په توګه ډير کسان آشنا دي- خو ادبي فنون او لفظي صنايع په زياته اندازه د شعر سره تړاو لري- که څه هم لفظي صنايع يا ادبي فنون نثر کې هم کيداي شيي. د مثال په توګه نثر مسجع د قافيي سره مل وي او يا هر نثر د شعر په شاني د جذر او مد (beat) سره ويل او لوستل کيږي. بل مثال يي په نثر کي د استعاري کارول دي.

عدالروف بينوا صاب په خپل کتاب کښي د( ادبي فنون) ترنامه لاندي چې د پښتو ټولنی لخوا چاپ شوي د شرقي نظريو پر بنسټ ادبي فنون به ډيرو برخو ويشلي دي. ادب د دغو نظريو پر بنسټ داسي تعريف شوي: ( ادب هغه پوهنه ده چې منثور يا منظوم کلام په پيژندل کيږي- يعنې د کلام ښه والی» بد والی» ټيتوالی» لوړوالی سم او نا سم ځيني څرګند شي. نو په دي صورت نو د بلاغت اسباب او د بليغ کلامو اصولو ته هم ادب ويلای شو . . .(بينوا عبدالروف(۱۳۳۱).کابل. د هوسی مجله).

زما په اند هغه ټول صنايع او فنون در ریتوريک(rhetoric) تر سريز ی لاندي را ټوليږي چې د بيان هنر او مهارت څرګندوي: ارسطو په خپل ریتوريک (Rhetoric) کښي ليکي: ریتوريک د دیالیکتیک جوړه ده. . .د ریتوريک مطالعه کول په دقيقه توګه د اعتقاد او باور راپارولو ډولونه دي.(Rhetoric,. Aristotle, p. 3, 5.Trans by W. Rhys Roberts).

د بينوا له څرګندونو څخه ښکاري چې د ادبي علومو د شمير په هکله کوم توافق موجود ندی خو صنايع لفظي او قافيه د ادبي فنونو څخه شميرل ګيږي.

د ار سطو په نظر په بيان کې بايد دري ټکي په نظر کي و نيول شي: لومړی- هغه و سايل چې د اقناع/ د قانع کيدلو سبب ګرځي. دويم د ستایل(style) یا سبک یا ژبه- او دريم د بيان د اجزاو مناسب نظم او ترتيب(Aristotle, Rhetoric, Book III, P.137).

پورتني اجزاوي په هر ډول بيانونو او لفظي صنايعو کې ليدل کيږي.

څرنګه چه ډيرو ته معلومه ده ادبي فنون او ورته علوم د عربي ژبيو متفکرينو تر تاثير لاندي وده کړي او زموږ په هيواد کې هم د عربي ژبي او افکارو تر تاثير لاندي پاتي شوي٠ حال داچي ادب پر

هماغه تیر حالت کښې نده پاتې خو ددی خبری معنا دا نده چې ادبی فنون او صنایع بی ارزښته شوی دی. د ادبی فنونو او لفظی صنایعو سره پیژندتیا د ادبی استعداد د و دی لپاره خورا ګټور دی. تر دی دمه د دی ضرورت نده را پاریدلی چې دا ادبی صنایع او فنون ملی او معاصر شی.
شعر د بدوی عربو د استعداد محصول دی.
په دی یاد دښت کی د ادب او ادبیاتو پر هکله یو څه معلومات وړاندی کیږی تر څو دا حقیقت را څرند شی چه د ادب او ادبیاتو حڅه هدف او منظور څه ده.
ژان پل سارتر لیکی چی ( د علایمو امپراتوری نثر دی- شعر د نقاشی- د مجسمی جوړولو او موسیقی څنګ ته دی)(Sarter J. P.,p.11).
د نثر په هکله لیکی : غواړم نثر- لیکونکی د هغه سړی په توګه ور وپیژنم چه د کلمو څخه ګټه آخلی . . . لیکوال ویونکی ده- ټاکل کوی- ښیی – امر یا انکار کوی- مداخله کوی - . . . که داکارونه له تاثیره پرته تر سره کړی- نو دی شاعر ندی(Ibid.,10-19)
ژبپوهنه د ادبیاتو یوه مهمه برخه ده. ژبه د افهام او تفهیم وسیله او یو سیمیوتیک( Semiotic) سیستم ده. ددی خبری معنا داده چه ژبه د علایمو یوه ډله ده چې د هغه (A sign) د فردیناند ساوسر (Ferdinand de Saussure) په خبره د (signifier) او د (signified) یو جوړه ده.
د ژبپوهنی پر اساس - ژبه څلور برخی لری چه غږ پیژندنه/ فونولوژی (phonology)- د کلماتو د جوړښت – پیژندنه / مورفولوژی(morphology)- ترکیب پیژندنه/ سینتاکس(syntax)- لغت پیژندنه / سیمانتیکس (semantics) څخه عبارت دی (Kracht Marcus (n.d.),p.3).
لنګویستیکس د ژبی د عناصرو او د هغو قواعدو سیستماتیک/ منظمه مطالعه ده چه د ژبی پر جوړښت او نظم حاکم دی. لنګویستکس ته پخوا فیلولوجی (philology) ویل کیده – چه او س هم کله کله د مترادف په توګه پکاریږی(Abrams M.H,1999.) .
لیکوال که نثر لیکی او که نظم د کلمو د معناوی اړو د جملو د جوړښت سره باید آشناوی.
ادبیات تو په اوسنی وقت کی د تخیلی ترکیبونو په توګه کتل کیږی - خو پخوا او حتی اوس هم په ځینو فرهنګونو کی شفاهی وی فرق نه کوی نثر وی که نظم یا دراماتیک شکل ولری. پخوا – د نولسمی پیړی نه دمخه ټول لیکل شوی ژبنیز مواد- هنری یا غیر هنری- ته ادبیات ویل کیدل((Childs Peter and Roger Fowler, 2006).
د عربی کلاسیک شعر شکلونه - موضوعګانی او کلی قواعد د اسلام نه دمخه د عرب په جزیره کی رامینځته شوی. د تر ټولو پخوانی شعر چه لاسته راغلی د سابقی له لحاظه د جاهلیه زمانی پوری اړه لری . . . (Arieh Loya, 1974).

لفظی صنایع، عروض او قافیه د عربی ادبیاتو څخه موږته را رسیلی ده- خو شعر لومړی ځل د بدوی عربانو له خوا په غیر آګاهانه توګه را مینځته شوی. کلیمینت هوارت (Huart Clement) د روایت پر بنسټ کله چی د اوښانو کاروان د سوداګری او تجارت لپار ه اوږده لاره وهله د اوښ د توپونو سره د

سپرلی  قامت کړوپیده. او  د موزونو ټکو یعنی (rhyme) فکر ورته  پیدا کیدل.  اوښ هم د موسیقی تر تاثیر را تله. د اوښ څلور غټ ګامونه د  سجع او قافیی سبب ګرځیدل  او په  شفاهی ژبه کی  د اوږد او لنډ هجاګانو  پرله پسی تکرار  را پیدا شول. دا د عروضی وزن پیل وه- د  قافلی د  سالار له خوا( Huart Clement, 1903).

کلیمینت د  خلیل عروض په هکله  لیکی چه په بازار کی د چکشو  پرله پسی غبرونه  هغه ته  د عروض د قاعدی کشف عامل وګرځید- خو  عربانو به پرته له دی چه د  شعر پر قواعدو پوه وی- شعرونه ویل. کلیمینت لومړنی شعرونه د (hijâ) هجو بیا د  طنز (satire) به نوم  یادوی. شاعر په هغه زمانه که چی د اسلام نه مخکښی زمانه  وه-  یو  پوه سړی وه چه وړاندیزونه یی کول او د اوراکل (oracle) په توګه پیژندل کیده. د اسلام  صدر کی کی  شاعر ته له همدی امله بد ویل شوی. دا بدوی اعراب (بدویان) نه یواځی ټول عمر د اوبو او چینو په لټه کی  سفرونه کول او  لومړیو  وختونو کی اوښانو نه  ګټه آخستل خو وروسته د آسونو اسپرلی ته مخه کړل. دوی غله او باندیټ هم ول.  کلیمینت دا  بدویان هغه کسان بولی چه د ابراهیم(ع) د ځوی - اسماعیل(ع)  او د هګر (Hagar) په رهبری سیمی ته مهاجرت کړی وه. ددوی د مهاجرت علت د کلیمینت په روایت د سلطان  قهطان (Qahtan) له  شیبا څخه او د  عدنان(Adnan) د زامنو-  چه د اسماعیل(ع) له کورنی څخه ول –اود اړوندو قبایلو سره د  جګړو  پایله وه.

د عربی شعر تاریخ شپژمی پیړی ته رسیږی که چه نباتیانو (Nabatean)( یوه شاهی حوزه د فلسطین په جنوبشرق کی- م) له سوریی څخه د  استرانګلو (Estranglo) الفبا عربو ته  ور پیژاندل او  پر عربی ژبه یی تطبیق کړل.  لومړنی  شاعران خپل د الهام  سرچینه  جنیات (Jinn) بللی دی- چی پر  طنز یی تاکید ډیر وه تر څو  پر دښمن  او  د هغوی پر مورال او روحیه اثر وکړی. ظهیر ابن جناب (Zuhair ibn janab) هغه زوړ شاعر وه چی جنګونه دده  په مشوره  ترسره کیدل او غنیمتونو (booty) څخه  دده برخه ورکول کیدل. ظنز د ظهیر ابن جناب یوه مهه  حربه وه. لومړی  موزون  نثر را مینځته شوی چه سجع (saj) نومیده. دوه اوږده سیلابونه د یو لنډ سیلاب او  یو اوږد سیلاب - یو ډول  سرود یا بدله وه چی رجاز (rajaz)  یا میتر ورته ویل کیدل. له دی  وخته د عربو شعر په واقعی توګه را مینځ ته شو (Huart Clement, 1903).

په دی رساله کی په پښتو ژبه کی د  لفظی صنایعو په هکله خبری کیږی. دا دنده د  یو ادبی محقق ده چی د ادبی  صنایعو او فنونو ریښی د پښتو  او دری په  ادب کی را و پیژنی. په دی هلکله ډیره لږه توجه شوی ده.

د پښتو  ژبی په هکله دا معلومه ده چی یو اندو- اروپایی ژبه ده(وزیری محمد اقبال۱۳۹۴. ص . ۴۹-۵۰)- چی د ګرامری جوړښت له پلوه د عربی او آلمانی ژبی او روسی  سره  شباهتونه لری.  د ادبی  صنایعو په برخه کی هم د غربی ادب سره  شباهتونه لیدل کیږی.

د دی لپاره چی ځینی ورته والی د غربی  شعری  صنایعو سره- که څه هم نسبی وی- وښودل  شی نو انګلیسی معادلو سره به هم  په دی برخه کی پیژندګلوی ترلاسه کړو. خو څرنګه چی غربی معادلونه لږ څه

توضیح ته ضرورت لری نو د هغو اصطلاحاتو توضیح ته مخه کوم چی د پښتو ادبی صنایعو سره اړخ لگوی.

Acrostics

اکروستیک هغه شعر یا نظم ته وایی چه د هری مصری لومړنی حرف د الفبا یا یو نوم(چه یا شاعر نوم وی یا د معشوقی نوم) تر لاسه کړی یا کوم بل راز یا پیغام ولری. هنری شکلونو کی دا رنگه شعر کښی مصرو د وسط کرښی یا وروستی کرښی دا دنده اجرا کوی خو په منثور بیان کی د هری جملی یا پرهگراف لومړنی کرښی دا دنده اجرا کوی(Baldick Chris, 2001) .

Allegory

(داستانی/ سمبولیک ادبیات)

یو منثور یا منظوم روایت/حکایت ته وایی. په دی روایت که افراد یا اعمال او کله همه محیط د مولف لخوا داسی جوړیږیچی د ادبی او د افهام او تفهیم د اهمیت په ام کی نیولو سره جوخت وی Abrams (M. H. and Geoffrey Galt Harpham, 2013).

په یوبل بیان په الیگوری کی که نثر وی یا نظم او یا نقاشی کرکترونه او حوادث د نورو شیانو سمبول او علایم وی.

allegory, a story or visual image with a second distinct meaning

په الیگوری کښی دویم معنا د هغه معنا تر شا پټ وی چه په ظاهر کی د کلیمو معنا وی. ځانتګړتیایی داده چه انتزاعی او نطری کیفیتونو ته د انسانانو بڼه ورکول کیږی. دی تکنیک/ یافن ته (personification) وایيږ لکه د آزادی یا عدالت مجسمی. د بالدیک په خبره یو الیگوری کیدای شی د یو میتافور(METAPHOR) په توگه ولیدل شی- یعنی یو ساختارلرونکی سیستم ته و غځول شی.په روایتی ادب کښی الیگوریدوه یا ډیر معناگانی په موازی توگه بیانیژی ترڅو د روایت کرکترونه او پیښی د افکارو په سیستم کښی خپل سیال سره برابر شی یا هغو ځنځیری پیښو سره برابر شی چه د قصی نه بهر شتون لریږ د جان بنیان په (John Bunyan)( 1678) کښی- د بیلگی په توگه- کرکتر او برخی/ ایپیزودونه (episode) هغه افار بیانوی چی د پوریتان د آزادی دکترین (Puritan doctrine of salvation) کی وجود درلودل(Baldick Chris, 2001).

Alliteration

د یو صوت یا غږ (sound speech) کلمو تکرار چه په صورت کښی مشابه وی. دا اصطلاح معمولآ د صامتو ټکو په هکله دی کله چه تکراریدونی صوت قوت ولری ځکه چه د کلمی په مینځ کی د یوی کلمی یا یک قوی سیلاب(syllabus) سره پیل شوی وی(Abrams and Harpham, 2013) .

دی ته ''head rhyme'' یا ''initial rhyme '' هم ویل کیږی(Baldick Chris, 2001).

anadiplosis [an-a-di-ploh-sis] (plural -oses),

د کلمی یا عبارت تکرار ته ویل کیږی چه د دیوی جملی یا عبارت یا شعری بند په پای کښی او بلی جملی یا بند پر سر کی تکرار شی او دوازه واحدونه سره و نښلوی. بیلگه یی د شکسپیر په 36th sonnet لیدلای شی.

.As thou being mine, mine is thy good report

.See also climax

anaphora [a-naf-o-ra],

انافورا د بیان هغه شکل ته وایی چه په هغه کښی یوه کلمه/ ټکی یا عبارت معمولآ د جملو په سر کی تکراریږی. دا صنعت هم په منثور او هم په منظوم بیان کښی لیدلی کیږی. دا ریتوریک بیان د دیکنسن(Dickens) ډیر خوښیده او د والت وایتمن (Walt Whitman) په آزاده او بی قافیی شعر (FREE VERSE) کی ډیر کارول شوی . لاندینی بیلگه د ایمیلی دیکنسن(Emily Dickinson) اثر دی.

!Mine—by the Right of the White Election

!Mine—by the Royal Seal

Mine—by the Sign in the Scarlet prison

!Bars—cannot conceal

Baldick Chris, 2001)

aphorism,

وجیزه او یو موجز بیان ته وایی چی په یوه جمله کی ډیر لوی معنا یا اصل بیانوی او ژر حافظی ته سپارل کیږی. بیلگی :

'Give a man a mask and he will tell you the truth' (Wilde); 'The road of excess lead to the palace of wisdom' (Blake).

افوریزم ډیر ځلی د تعریف بڼه غوره کوی(.Baldick chris, 2001) .

apostrophe [a-pos-tro-fi],

اپوستروفی داسی یو صعنت دی چی ویونکی یو مړی ته یا یو غایب سړی ته خطاب کوی او یا یو شی ته خطاب کوی. په کلاسیک ریتوریک کښی ویونکی یو مشخص غړی او یا د لیدونکو یوی برخی ته خطاب کول. . . (Baldick Chris , 2001).

Ballad

بلد(Ballad) فولکلوریک شفاهی بدلو ته وایی چه په شفاهی توگه دیو نسل نه بل نسل ته رارسیږی او قصی

او روایتونه کوی(Abrams and Harpham, 2013) .

blank verse, unrhymed lines

آزاد شعر / قافیه نه لرونکی شعر ته وایی. لومړی ځل په ۱۵۴۰ کښې د هینری هووارد ایرل آف سوری (Henry Howard Earl of Surrey) له خوا وویل شو او دیر ژر دراماتیک شعر او روایتی شعرونو کی د متداول بیان قاعده و گرځید(Baldick chris.2001).

Burlesq(," "parody," and "travesty)

بار لیسک هجوه ته وایی او هم د یو ه سړی د خنداوړ تقلید / مسخره کولو ته وایی.

. (Brams and Harpham, 2013; Baldick Chris,2001 )

Fabel (Beast fabel)

فیبل ته اپالوگ(apologue) هم ویل کیږی او یو لنډ منظوم یا منثور روایت څخه عبارت دی چه یو اخلاقی درس یا عبرت یا د کړونو اصل بیانوی. معمولاً د روایت په پای کی د راوی له خوا یا یو بل کرکتر له خوا د یو لطیفی یا د یو طنزی بیان/ ایپیگرام (epigram) په شکل بیانیږی. حیوانی فیبل د دی ادبی صنعت معروف شکل دی چه حیوانان په روایت کی د انسانانو په څیر خبری او عملونه تر سره کوی (Abrams and Harpham 2013).

Line

په شعر کی د جوړښت یوه رسمی برخه ده چه د فوتونو (Foots) د شمیر پر اساس پر ډولونو تقسمیږی. د بیلگی په توگه یو پینتامیتر (pentameter) پنځه فوته لری او یو هیکسامیتر (hexameter) شپږ فوتونه لری(J. A. CUDDON, 2013).

metaphor,

استعار ی ته په انگریزی کی میتافور وایی. استعاره د بیان معروف شکل دی چه په هغه کی یو شی یا فکر یا عمل/ کړه - د یوی کلمی یا بیان په ذریعه بیانیژی کوم چی په عادی حالت کی کوم بل شی وی یا کوم بل معنا ولری خو یو څه په دواړوکی شریک وی. دغه شباهت او څیروالی په میتافور یا استعاره کی د تخیلی هویت په توگه لیدل کیږی.

referring to a man as that pig, or saying he is a pig is

یو چا ته د خوک (pig) خطاب یا داچه دا سړی خوک دی د استعاری / میتافور بیان ویل کیږی (Baldick Chris,2001).

Prosody

پروسودی نظم جوړونی ته او د نظم جوړونی مطالعی ته وایی چی وزن آهنگ ا و د نظم ساختار پکښی شامل دی(Cuddon J.A. 20134) .

Rhyme

قافیی ته وایی او په څو ډوله دی.

رایم یا قاقیه په ژبه او غوږ که هځی نه وی لکه چی په کاغذ کی وی.

Full(or perfect) rhyme

کامله قافیه د آخرنی زیرناک واول او هغه نه وروسته د و یا زیاترو کلمو یا عباراتو غږ ته وایی لکه:
(fish/dish, smiling/filing).

rime riche (or identical rhyme)

کله چه یو یا دیر غږونه د آخرنی زیرناک واول څخه تر مخه هم یوبل ته ورته وی لکه
(catfish/cat-dish, designing/resigning),

لکه هامافونز (homophones) (چه صوت کی یو شان وی خو لیکنو که سره توپیر ولری-م) لکه
(there/their)

یا (homographs) ( په لیکنه کی یو شان وی او په معنا کی سره توپیر ولری-م) لکه
(well [of water]/well [not ill])

vowel rhyme

کله چه د زیرناک واول وروستی غږ یوشان نه وی دی ته (vowel rhyme) وایی لکه
(fish/finger, smiling/smiting);

pararhyme rhyme

پارا ر ایم قافیه که وروستی زیرناک واول سره فرق ولری خو راتلونکی غږونه سره یو وی- لکه
(fish/dash, smiling/falling

دواړه نیمایی رایم (half-rhyme) یا (near or slant rhyme) رایم دی.
پارا رایم قافیه په زیرناک سیلابونو کی د آخرنی صامت غږ تکرایږی. دا قافیه د ایسلند – ویلز او ایرلند شعرونو که رواج درلود. . اته ډوله مهمی قافیی پیژندل شوی دی.
قافیه وزن یا آهنگ ته وایی چه په شعر یا نثر کی موجود وی. . . (Cuddon J. A., 2013 ) .

Simile (L neuter of similis, 'like')

تشبیه ته وایی. په دی صنعت کی یو شی د بل شی سره داسی اړوند کیږی چه د لومړنی شی تصویر وضاحت مومی. په دی صنعت کی مقایسه ډیر وضاحت لری او په عمومی توګه د (څیر)- (like) یا (په شان) کلمی سره پرتله کیږی . . .( Cuddon J. A., 2013).

Stanzas

استانزا د معنا له لحاظه د ولاړیدو یا دریدو ځای ته وایی. دشعر بند ته هم ( استانزا) وایی. استانزا د شعر یا نظم د سطرونو (lines)- جملو یو ګروپ دی چه شمیریی کیدای شی ډیر وی خو له ۱۲ نه زیات ندی معمول. څلور- ډیر معمول دی. . .
استانزا n لاندینی ځانګړتیاو له مخی پیژندل کیږی:

- د سطونو شمیر
- په هر سطر یا لاین کښی د فوتونو شمیر

- وزن او آ هنګ
- استانزا په شعر کی د جوړښت واحد دی (Cuddon J. A., 2013) .

لوستاونکی نه یواځی کولای شی ځینی صنایع یو بل سره پرتله کړی کوم چی په غربی ادبیی صنایعو کی هم شتون لری -بلکه د انګلیسی معادلونو سره هم بلدتیا مومی.

# ماخذونه

وزیری- محمد اقبال(۱۳۹۴). پښتو د تاریخ په بهیر کې. کابل: دانش.

Arieh Loya(1974).)" The Detribalization of Arabic Poetry " International Journal Middle East Studies. 5 (I974)202-215 Printed in Great Britain). .Stable URL: http://www.jstor.org/stable/162590

Abrams M.H, and Geoffrey G.Harpham(2013). A Glossary of Literary Terms, 11th Edfition. Stamford, US: Cengage Learning.

Abrams M.H.(1999). A Glossary of Literary Terms, 7th edition. Boston: Heinle & heinle.

Aristotle, Rhetoric, Book III, P.Translated by W. Rhys Roberts, Retrieved on Nov 2021 from: http://www.bocc.ubi.pt/pag/Aristotle-rhetoric.pdf

Baldick Chris(2001).The Concise Dictionary of Literary terms. Oxford: Oxford University Press

Cuddon J. A.(2013). A Dictionary of Literary Terms and Literary Theory. 3rd edition Revized by M.A. R. Habib.Sussex: Wiley Blackwell

Huart Clement(1903). Ahistory of Arabic Literature. New York. D. .Appelton and Company

https://www.aryanpour.com/English-to-Persian.php

.Kracht Marcus(n.d.). Introduction to Languistics. Ebook

Peter Childs and Roger Fowler(2006).Routledge Dictionary of Literary .Terms. New York: Routledge

Sarter J.P.(n.d.).What is Literature. New York: Philosophical Library

# حمد او ثنا

د لوی او ښښونکی خښتن تعالی په پاک نوم د صنعت الالفاظ رساله د رب العزت حمد او ثنا سره پیل کوم.

حمد و ثنا

اول وایم د خالق حمد و ثنا
چی صانع دی د احیا او د فنا
بیا درود پر محمد نبی سرور
چی شافع د کل امت دی په ربنتیا
ته خالق د ټول اشیایی ای خاونده
ښه عالم یی په اخفا او پر ابدا
سرنگون دی ستا به در کی لوی شاهان
ټول ولاړ دی په تعظیم او په رجا
بی له اذنه دی هیڅ شی خوزیدی نشی
ټول موقوف دی که سما دی که غبرا
" صافی" و ساتی محشر کی لویه خدایه
په ژړایی گریوان لوند دی له اذرا
پای

ثنا وایمه د پاک غنی غفار

بیا صلوات پر محمد نبی سردار

معافی غواړم په مخ د محمد

شرمنده یمه بی شانه گنهگار

مړی اوبه وم په تورتم کی

له تورتمه د دنیا ته کړم آشکار

ځانکدن می آسانه کړی خاونده

مختورن یم توښه نه لرم د لار

د امید سترگی می تالره نیولی

زه صافی یم ستا کرم ته امیدوار

پای

# سریزه

د ثنا او درود نه وروسته د بدیع علم په مقدمه کی د دا دری شیانو راوړل شرط دی:

۱. جلب: داچی یو ویونکی یا لیکونکی د خلکو توجه خپلی و ینا ته جلب کاندی.

۲. افتتاح: دی ته وایی چه ویونکی او یا لیکونکی د خپل پیغام او مضمون عنوان په جذابو الفاظو سره څرګند کړی.

۳. بیان: په لغت کی کشف او ایضاح ته وایی او په اصطلاح کی د یوی معنی دلالت په مختلفو لارو وښودل شی.

په مقدمه کی یو څه معلومات د بدیع او بیان په هکله ضروری ښکاری. دا دوه سوالونه خو ضروری بریښی:

د بدیع علم واضع څوک دی؟ او د بدیع علم څه معنی لری؟

د بدیع علم واضع عبدالله بن المعتز ګڼل کیږی چه د عباسیه خلفاو څخه دی او په ۲۹۶ هجری کال کی د یو مریی له لاسه وژل شوی. نومړی مرحوم دا علم د ۲۷۲ هجری کال کی را ویستلی او د بدیع نوم یی پری ایښی دی او په حقیقت کی دا علم د معانی د علم یوه برخه ګڼل ګیږی ځکه چه دا دواړه علوم دبیان په هکله دی.

د بدیع لفظ یا کلمه د مبالغی صیغه ده اوبل داچه د البدیع مبتدع معنی داده چه ډیر عجیب او غریب پیدا کونکی. په بل عبارت د یو نوی او تازه شی را مینځ ته کولو ته وایی. د لغوی حقیقت له مخی نوی پیدایښت ته وایی او د بدعت څنی مشتق دی .

بدعت پر دوه ډوله دی:

۱. بدعت حسنه: لکه د جمعی لمونځ په قریو کی. دا ډول بدعت په پنځه ډوله دی:

الف: و اجب بدعت ب: مندوب بدعت .پ:مباح بدعت. ت: مکروه. ث: حرام.

او دلته ترینه د کلام ښه والی مراد دی.

۲. بدعت قبیحه: چه د هغه کول په شریعت کی منع راغلی وی.

دبدیع علم پر دوه ځانګو باندی بحث کوی:

۱. لفظی صنایع: چه د الفاظو جزالت- انسجام او التساق بیانوی.

۲. معنوی صنایع: چه د معناو ساتل په کی لازم ګڼل کیږی.

ځرنګه چی د بدیع علم د ذکر شوو دوه شیانو په هکله بحث کوی نو ما هم دا علم په دوه ټوکونو کی وه اوډه او لومړی ټوک می په صنعت الالفاظ او دوهم ټوک می په صنعت المعانی سره مسمی کړل. او د هغه مسوداتو څخه می چه په ۱۳۰۲ کی لیک شوی دی د هر صنعت د پاره می په ښه ښه لنډ او مجلل تقریر سره ښه ښه مثالونه دی ټوکونو ته را نقل کړی دی او په الفاظو کی یی تنافر[1]- ابتذال[2]-کراهت[3] او غرابت[4] وجود نه لری چی د لوستونکو زړونه په کرکه راولی.

که دا دوه ټوکونه می سره یو کړی وای نو د ضخامت په علت یی هرو مرو د لو ستونکو د مطالعی مینه او رغبت محوه کول ځکه چه دا علم ډیر مشکل او کتل یی ډیر ژور فکر او اوږده موده غواړی او له همدی کبله د رسالی حجم د لو ستونکو د مطالعی شوق کموی. او بیا به وایی چی دا رساله له یوی خوا هم مشکله او هم ضخیمه ده او له بلی خوا مطالعه یی ډیر وخت ایجابوی. نو له دی کبله می په دوو ټوکونو کی راوړ چه د لوستونکو د مطالعی احساسات په جوش راولی او په بیړه سره یی تر پایه ولولی.

دا جوته خبره ده چی د لفظی صنایعو سره پیژندګلوی ددی معنا لری چی سړی یی له ورایه و پیژنی او بیا په دویم پړاو کی لفظی صنایع و کاروی.

فکر کوم چه لوستونکی ته تر اوسه دا رنګه لنډی خوږی رسالی د بدیع علم په باره کی په پښتو سره تر نظره نه وی راغلی، ولو چی پخوانی شاعرانو هم په دی علم کی څه مثالونه په نظم سره لګولی وی خو په دی موضوع کی یی په پښتو ژبه کومه رساله په دا

---

[1] تنافر هغه کلمی ته وایی چح په ژبه ډیر سخت ادا شی.

[2] ابتذال د ضعیفو کلمو استعمالولو دی.

[3] هغه وی چی د اوریدونکی پخ غوږ بد تاثیر و ښندی.

[4] غرابت د وحشی کلمو راوړل.

دود سره تالیف کړی نه ده. څه کوم ادیب او ملا نه یم او نه د ځان تعریف کوم او محضآ یو وړی ځانی یم. انما الحق بالحق لا الحق بالوجال.

پیژنده شی حق په حق نه په رجال

حقیقت دی تل روښانه په هر حال

حق دی لمر-لمر په گوتو نه پټیږی

نه کولی شی په حق کی څوک ابطال

نو په دی باره کی هیله کوم که څما په دی رسالو کی کومه ادبی سهو او خطا راغلی وی گران لوستونکی دی په خپله مهربانی او توجه سره د اصلاح گانه وریغاړه کړی او څما پر عیب دی محمول نه کړی او که کوم عیب او نقص په کښی نه وی او بی موجبه تنقیدات و رباندی نیسی له انصاف او عدالت څنی به لیری وی. ښایی چه د ا تنقیدات یی د تعصب له مخی نه راوړی وی او نه د حقیقت له مخینه-ښایی چه گران لوستونکی دا رساله په غور سره ولولی او په څنی اصلاحاتو کی ما د خپل ځان مننددوی و گڼی. ( تمت بالخیر)

لومړی برخه

# لفظي صنایع

١

# ترصیع

تر صیع دی ته وایی چه شاعر خپله منظومه برخی برخی کړی او د هر لفظ په مقابل کی داسی الفاظ ذکر کاندی چه هر لفظ یی د ( روی ) توری سره په و زن کی برابر وی- لکه په دی راعی کی:

ژاړی بلبل زخمی په دل کوی فریاد

غواړی گل تېپی گوگل لری بنیاد

ویاړی تل تړی محمل ستی په دل

نغاړی منگل نه مومی گل ثانی فرهاد



٢

# مربع

مربع دی ته وایی چه یوه رباعی پر ځلورو برخو وویشله شی چه افقی او عمودی هم ولوستله شی او دی ته د توشیح ډول هم ویل کیږی. د داسی لفظی صنعت بیلګه د محبوب صافی په لاندینی رباعی / څلوریزه کې ښودل شوی دی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| د یار | په عشق کې یی | غوښ | دزړه سر دی |
| په عشق کې می | سوی | تېر | ټول سراسر دی |
| غوښ | د زړه سر | حال می بتر دی | کنډ و کپر دی |
| دزړه سر دی | زیر و زبر دی | وخت د خطر دی | ټول خاکستر دی |

٣

# ملمع

کله چه د یو رباعی/ څلوریزی لومړی مسره یی پښتو او بله یی عربی وی هغه ته ملمع وایی-لکه په دی رباعی کی چی محبوب صافی وایی:

ما پرده له ځان نیولی په گوښه یمه قانع

مد مرکل عدو معی حسام قاطع

نه هغسی توره چه سړی په وینو رنګ کړی

اکرامی فی جمع هم بالحجت الساطع

۴

## ذو لسانین

کله چی یو ه څلوریزه/ رباعی یا غزل په دیرو ژبو سره وویل شی- هغه ته ذولسانین وایی.
د ذولسالنین بیلگه د محبوب صافی لاندینی غزل که لیدلای شی:

ای شوخ طناز محبوب دل آرام

زه پرتا باندی شیدا یم وکړه پام

یا بیرون کن زحجاب برحالم نظر کن

چه حاصل کړم په کتو دی خپل مرام

چو بسمل در خون یاس طپیدن دارم

سکیر دی ستا وصال کښې مړ شمه ناکام

بر دل صافی همچو لاله داغ حسرت نشست

لاروی دی درنه غواړی د سپینی خولی انعام

رحم نکرد بروجودم دلدار خپل

محو ساخت مرا په یو نظر نگار خپل

تراب میگردد وجود له نازه تیر شه

آه فریادم شد بالا کندم رخسار خپل

لب یاقوتش بر سر دارد سنبل اوس

هاله بگرفت رخ ماه را در کنار خپل

دمادم زهجرش ژاړم  سانیولی

عذرخواه لیږم دلبر ته اوس اشعار خپل

محبوب  دارد التماس د ستا په در کښی

که یی  ومنی په سترگو شیرین  یار خپل

۵

## رد العجز علی الصدر

رد العجز علی الصدر  دی ته وایی چی د لمړنی مسری آخر په دوهمه مسره کی تر آخره په غزل کی تکرار  و ویل شی- څکه چه (صدر) د هری مصری اول ته ویل کیږی او (عجز) یی آخر ته ویل کیږی. بیلګه یی په دی رباعی کښی چی محبوب صافی وایی:

توری زلفی توری پریکوی د زړګی سر څما

سر څما تری جار شه که یار راشی په نظر څما

نظر څما دلبر څما تری جار مال و سر څما

یار څنی فدا شم زړه یی وړی له ټټر څما

په  دی رباعی کښی د لمړی مسری آخر د هری مسری په پای کی تکرار راغلی.



۶

# اسجاع

اسجاع د سجعې جمع ده -په لغت کې زمزمه کولو ته وايي او په اصطلاح کې د قمرې موزون غږ ته وايي . سجع په درې ډوله ده.

۱. متوازي : دې ته وايي چې د غزل او د هرې آخرنې مسر ی په آخر کښې داسې کلمې راوړل شي چه توري يې په شمار او وزن کې د (روی) توري سره برابر وی لکه په دې رباعی کښې:

لباس کې اختلاف دی دهر سړی نظرکې

وينې دی يو رنګ په غړو د بشر کې

فکر مختلف دی تعلق لرې مغزونو کې

سوک د زړونو ميچ دی دهر انسان ټټر کې

۲. مطرف: که د هرې مسرې آخر توری د (روی) توری سره برابر او په وزن او عدد کښې مخالف وی و رته مطرف ويل کيږی. بيلګه يې په لاندينی غزل کې ليدلای شې:

مسکه مسکه کيږی د غماز سره ګفتن کوی

نور به څه و نه کړی مسته ما باندی کشتن کوی

هسکه نرې غاړه شوندی سرې مسته کاکه ګرزی

ووته ګذر ته د هيلی په شان رفتن کوی

وژنی عاشقان تل د مژګانو په تيرو سره

مسته ده بی رحمه آرايش د خپل بدن کوی

منګلی يی سرې کړی د عشاقو په وينو کښی

شین خال یی وهلی دی د زړونو سوختن کوی

زه محبوب ژړیږمه اور باندی کړیږمه

داچه د اغیار سره په مینه دیدن کوی

دلته په دی غزل کی د ښپږمی او لسمی مسری د (روی) توری موافق دی- خو په وزن او عدد کښی مخالف دی.

تبصره: روی په لغت کی رسی ( ریسمان) ته وایی او د قافیی کلمی آخر توری ته وایی ځکه چه د قافیی توری پرته د (روی) توری څخه اته (۸) دی: څلور یی د روی توری نه مخکی راځی او څلور نور یی در روی توری نه ورسته راځی. نور پکواس یی د قافیی(rhyme) علم پوری اړه لری.

په بل عبارت سره- په (بدن) او (دیدن) کښی د نون (ن) توری د (روی) توری دی او دمخه نور توری یی د قید توری ګڼل کیږی.

**۳.** متوازن: دی ته وایی چه په هره مسره کی داسی کلمی راوړل شی چه د خپل نظیر سره په وزن کښی برابر او د (روی) په توری کښی مختلفی وی لکه په دی رباعی کښی:

نری ملا هسکه غاړه سپین غاښونه

خولګی زیبا ګدر ته لاړه رنګین لاسونه

نتکی طلا په بڼو ولاړه په تکبر

اوګی صفا کوی دیاړه مشکین خالونه

۷

# غیر منقوط

هغه نظم ته ویل کیږی چی الفاظ یی ټکی/نقطی و نه لری-لکه په لاندینی غزل کی:

د رد[5] او مل[6] وهه دلدار سره مدام

د همدم سره هردم کوه کلام

د صلاح عمل له صدره مکړه دور

سمه لاره ده ډار مه کوه له دام

گله مه کړه له طالع او له دلداره

طمع داره د مهرو کوه اکرام

---

[5]. د لمړی دال په ضم.

[6]. د میم په ضم.

٨

# اعنات

# یا

# (لزوم ما لا یلزم)

هغه لفظي صنعت ته وایي چې شاعر په نظم کښې یو غیر لازمي شی د غزل یا رباعی/ څلوریزی په قافیو کې پر ځان لازم وبولي مګر که دغه لزوم نه صرفنظر وشي په شعر کې کوم نقصان نه رامینځ ته کیږي. د لزوم مالا یلزم بیلګه په لاندیني رباعي کې چه محبوب صافي وایي:

توری زلفې د پر مخ کړې الول
دام کې نیسي عاشقان په چلول
لذت مه وړه د عاشقو له آزاره
ښه کار نه دی د بې وزلو ځلول

که شاعر دلته یې د (چلول)-(ځلول) پر ځای (رو رول) یا (پخسول) راوړي وای څه نقص یې نه درلوده.

٩

## تجنیسات

تجنیسات (naturalization) په اوه ډوله دی: تام ، ناقص، زاید، مرکب، مکرر، مطرف، او خطی.

### ۱. تام تجنیس:

دی ته وایی چه شاعر په نظم یا په نثر کی یوه کلمه ذکر کاندی چه په شکل کی یو شی او په معنا کی سره توپیر لر ی لکه په دی رباعی کی:

خرڅه نه کړی خپله لور پشان د مینځی

پاک به نشی که سل ځله ځان و مینځی

خرڅول دلور حرام دی په کتاب کی

حرام مه خوره لور ولور دی لکه رینځی

د دی خلوریزی په لمړی مسره او د دوهمه مسره کی د مینځی لفظ په شکل کی یو شی دی او په معنا کی تفاوت لری. همدا رنګه په اوله مسره کی د کینزی په معنا او په دوهمه مسره کی د بشری په معنی راغلی دی.

### ۲. ناقص تجنیس:

که لفظ یی په صورت کی یو شی وی او په معنا او حرکاتو کی سره توپیر ولری، ورته ناقص تجنیس ویل کیږی- لکه په لاندینی رباعی کی:

د شوتل په شان سړی ریبی په لور

د لوګری غوندی لو کړی په هر لور

لور دی ډیر دی په خپله لور او خپله ښځه

نور څوک څه کړی که وسیزی په اور

دلته په لمړی مسره کی (لور) په مجهول واو(و) سره د داس په معنا او په دوهمه مسره کی د طرف/خوا په معنا راغلی دی او په دریمه مسره کی د (ل) او (و) په فتحه سره او د (ر) په سکون سره د رحمت په معنی. د دریمی مسری په آخر کی د معروف (و) په تلفظ سره د (دختر) په معنا راغلی دی او دا ذکر شوی کلمی په صورت یو او په معنا او حرکاتو کی مختلفی دی.

### ۳. زاید تجنیس:

دی ته وایی چه په نظم کی د متجانسو کلمو په اول یا آخر کی یو توری اضافه راغلی وی لکه په دی رباعی کی چه محبوب صافی وایی:

چه حق وایمه له ویری می زړه ریږدی

ما به حق وینا ته څوک په دنیا پریږدی

خپل حقوق کښی هیڅ اظهار کولی نشم

که یی وایمه هغه دم نفس لیږدی

دلته د دوهمی مسری په آخر کی د (په) توری اضافه راغلی دی.

### ۴.مرکب تجنیس:

مرکب تجنیس په دوه ډوله دی: متشابه او مفروق.

متشابه تجنیس: دی ته وایی چه د بسیط لفظ سره مرکب لفظ د بسیط په شکل ذکر کړی لکه په دی مسدس کی چه محبوب صافی وایی:

په شاقه کی د هرچا سره سوا یم

وخت د عیش کی له نظر څنی سوایم

د تکلیف بار می په ولی څه به وایم

زه چتې دی بې عدلی ته سترکې وایم

یم له ټولو بې خبر لکه صبا یم

زړه تازه لکه غوټې زه له صبا یم

د پورتني مسدس په لومړي مسره کښې د (سوا) لفظ د (س) او (و) په فتح سره د برابر په معنی او په دوهمه مسره کی د (س) په کسره او د (و) په فتحه د غیر په معنا راغلی دی. په څلورمه مسره کی د (وایم) لفظ د باز په معنا او په پنځمه مسره کی د (صبا) لفظ د( صاد) په ضم/ پیښ سره د ماشوم په معنی او په شپږمه مسره کی د (صاد) په فتحه سره د (سهار) په معنی راغلی دی. د پورتني بیتو قافیې په شکل کی متشابه دی خو جلا جلا معناوی لری.

مرکب مفروق تجنیس:

دی ته وایی چه شاعر بسیط او مرکب لفظونه د بسیط او مرکب په شکل ذکر کاندی لکه په دی رباعی کی:

د وطن په مینه تل سوزم پتنگ یم

له خاینه پناه غواړمه په تنگ یم

چه خاین وینم له قهره ورته ریږدم

هر ډگر کی د نامرد سره په جنگ یم

دلته په لومړی مسره کی د پتنگ لفظ مرکب دی په لیکنه کی او په دوهمه مسره کی د بسیط مرکب په شکل ذکر شوی دی یعنی د (پ) توری جلا لیکل شوی نو ځکه دی ته د بسیط مرکب شکل وایی.

۵.مکرر تجنیس:

کله چه په یو شعر کی شاعر د مسرو په قافیو کی دوه متجانسی کلمی اړخ په اړخ راوړی او معناوی یی مختلفی وی هغه ته مکرر متجانس ویل کیږی. که د متجانسو کلمو په سر کی کوم حرف اضافه راشی نقص نه لری. د مکرر متجانس بیلگی په لاندینیو رباعیگانو کی لوستلی شی:

ای غافله څنګه مست یی په مدام مدام

خلاص به نه کاندی په هانده له دی دام اندام

ټول رګونه د ضعیف له مکروب ډک دی

راشه بس کړه نور و نه کړی می آشام شام

!!!

قد می مه وینه په مځکه لکه خم خم

په نبرد کی په قوت له رستم رستم

چه می تل ګوری وجود ته په تحقیر

هغه نشی دریدای ماته په سم سم

دلته په لمړی مسره کی د (مدام) لفظ د (م) په کسره سره په معنی د شراب او دوهم لفظ یی د (م) په ضم/ پیبنں سره د تل/ همیش په معنی راغلی. د دویمی رباعی په لمړی مسره کی د (خم) لفظ د (خ) په ضم/ پیبنں سره د چاټی په معنا او دویم لفظ یی د (خ) په فتحی او د (م) په سکون سره د ټیټ په معنی او په دوهمه مسره کی د (رستم) کلمه د (ر) په ضم/ پیبنں او د (س) په سکوڼ سره او د (ت) په فتحه او د (م) په سکون سره د خلاصون په معنی ۰ په څلورمه مسره کی د (سم) لفظ د (س) په ضمه او د (م) په غړوندی سره د قدم په معنی راغلی دی.

باد رنګ راغی دلبر دواړه سترګی یی باده رنګ

تر ورنو لاندی بادرنګ په دواړو لاسو بادرنګ

### ٦.مطرف تجنیس:

مطروف په فتحو سره د زرو بند، او زینت ناک ته وایی او د طرف څنی ماخوذ دی.
مطرف تجنیس دی ته وایی چه د مسری توری په عدد کی د (روی) توری سره برابر وی او په وزن کی مخالف وی. بیلگه یی په لاندینی رباعی کی وگوری؟

وقار اطوار خیال او مال څما

جار له دلدار مال او حال څما

ژړا فریاد شور و غوغا څما

ستی نړی کړه سوی حال څما

### ۷.خطی تجنیس:

دی ته وایی چه شاعر د رباعی او یا غزل په آخر یا د مسری په مینځ کی دوه داسی کلیمی راوړی چه په لیکنه او تحریر کی یی شکل یو رنگ وی –که یو منقوط او بل یی غیر منقوط وی باک نه لری-لکه په دی رباعی کی:

په یاری کی آشنا ما ته شو مجرم

راز می وپاشه مادی گڼه محرم

ظاهر دوسته آشنا زهر لری نگین کی

سړی چیچی تل په نیش لکه گژدم

۱۰

## رقطا

رقطا دی ته وایی چی  شاعر په خپل شعر کی  له سره تر آخره پوری یو حرف بی ټکی او بل حرف ټکیوال ذکر کاندی لکه په دی رباعی کی :

مخ می نم قد می دی خم تل

پروت یم یم کی زه په غم تل

ترخو به زه یم په دی غم کی

خسته زهیر یم په دی چم کی



١١

# منقوط

منقوط یعنی نقطه لرونکی/ ټکی لرونکی. شاعر په خپل شعر کی ټکی لرونکی توری استعمالوی او هیڅ یو توری بی له ټکی نه استعمالوی. لاندینی څلوریزه یی یوه بیلگه ده.

شپ شپ ځیبښی شفت نن

ځب ځب بشی شقت نن

ځنی شپې ښی څښی غیږ

ځنی غیږ ببښی زینت نن



## ۱۲

موصل

که د شعر ټول توری یو تر بله و نښلول شی هغه ته موصل وایی. ځکه موصل د وصل څخه جوړ شوی. موصل په دری ډوله دی: موصول توری/ نښتی توری- دری حرفیزه او دوه حرفیزه.

لمړی د نښتو تورو مثال:

ځینی ځینی پخی جنی نیغی نیغی

شنی شنی ښی شنی شنی نبیځی

ځینی جنی ښی څښی تیغ تیغ

ینځی څښ څښ څښی تیغنی تیغنی

موږ کولای شو دا منقوطی توری په ټولو مسرو کی یو بل سره متصل او پیوست ولیکو. بیلګه:

ځینیځینیپخیجنینیغینیغی

شنیشنیښیشنیشنینبیځی

ځینیجنیښیڅښیتیغیتیغی

ینځیڅښڅښڅښیتیغنیتیغنی

دویم: د موصل د دری حرفیزو تورو بیلګه په لاندینی رباعی/ څلوریزه کی ولولی:

خپل کار و بار علم و عمل

صفا مزه کړی لکه عسل

ځگر خون کړه پښی پلی

کوه علم ځان کړه اتل

د موصل دوه حرفیزو تورو بیلگه:

که گل رخ شی پر مخ یو شب نن

یو تن شی په تن لب په لب نن

چه سر په سر شو غم به کم شی

ژر به ښه شی تن می ځب ځب نن

۱۳

## خیفا

د خیفا په صنعت کی شاعر په نظم کی یوه کلمه یا څو توری منقوط/ټکی لرونکی او د بلی کلمی توری یی په شمار بی له تکی/غیر منقوط راوړی. په بل عبارت سره یو حرف یی منقوط وی او بل حرف یی غیر منقوط ذکر کاندی او په دی کی شاعر اختیار لری چه دوه حرفیزه یا دری حرفیزه یا څلور حرفیزه توری منقوط او غیر منقوط په شعر کی راوړی لکه د محبوب صافی په دی رباعی کی :

نه به زه یم نه به ته په دی گلشن

تل به نه یو نه به تل وی فرح - من

په دی بد مخ به ترخو یو ناچل

په مخ روڼ شه په فهم ښه شه مینه – ون

۱۴

## اشتقاق

اشتقاق له مشتق څخه جوړ شوی او په ادبی صنایعو کی دی ته وایی چی شاعر یا ناثر په خپل شعر یا مضمون کی داسی کلمی راوړی چی یوه اصل ځنی مشتق وی لکه په لاندینی څلوریزه کی:

خوږ یار په زړگی خوږ کړمه له واره

په تور کیوتم په تور د خپل نگاره

لکه تږی بی ناری ناری و هم تل

د وصال په مینه موړ نه کړم دلداره

د دی رباعی په لومړی مسره کی دوه ځایه د (خوږ) لفظ ذکر شوی – خو هر یو په خپل مکان او د حرکاتو پر بنسټ ځانته معنا لری: لمړی لفظ یی د مجهول (و) په تلفظ د (شیرین) په معنی او دوهم لفظ یی د معروف (و) په تلفظ د (افگار) په معنی راغلی دی.

## ۱۵

# مقلوب

مقلوب یعنی چی د مقابل یا متضاد حالت. په ادبی صنایعو کی د بیان هغه حالت ته وایی چی شاعر په نظم کی یوه کلمه ذکر کړی او بیایی توری په مقلوب صورت بیان کړی. مقلوب په دوه ډوله دی:

بعضی مقلوب او کلی مقلوب. دی ته ( قسمی مقلوب) او (کامل مقلوب ) هم ویلی شو.

قسمی مقلوب:

د کلمی ځنی توری واړول شی او ځنی نوری توری نه.

مثال:

ای په تور د تورو زلفو کی بندی شوم

سودا سپین کړه سر سواد له زړه ټپی شوم

د سترګو سواد می لاړ په تن آسوده نه شوم

لاس ته رانغی دلبر ټول عالم ته تهمتی شوم

دلته په لمړی مسره کی د (سودا) د کلمی د (الف) توری د (دال) توری ځای ته او د (دال) توری د (الف) توری ځای ته د مکان له لحاظه مقلوب شوی- و لو چه (سودا ) او (سواد) د توروالی په معنا راغلی دی مګر دلته له (سودا) ځنی ناروغی مراد دی او طبیبانو په اصطلاح د څلوریزو اخلاطو ځنی یو جز ګڼل کیږی. نو هرکله چه د سودا کلمه په دی صورت سره

مقلوب شی چه ( الف ) د (دال) ځای ته او (دال) د (الف) ځای ته را منتقل شی د سواد کلمه تری جوړیږی.

په دو همه مسره کی د سواد کلمی (الف) د (سوده) کلمی سر ته مقلوب شوی دی او په تلفظ کی د (آسوده) لفظ د (س) په سکون او د (الف) په فتحه او د ملفوظی (هی) په غږوندی سره په معنا د (تور/ سیاه) او د اسم تفضیل تانیثی صیغه ګڼل کیږی- او د (الف) په فتحه او د (س) په پیښی سره د آرامتیا معنی ورکوی.

کامل مقلوب:

په کامل مقلوب کی د کلمی ټول توری واړول کیږی.

مثال:

انقلاب کی ټول ضرر دی لا بقا دی

صلحه ښه ده چه لوړوالی د دنیا دی

په دوره د انقلاب کی څه دوره ده؟

ښه کار نه ګڼی پوهان دا کار خطا دی

دلته په لمړی مسره کی د انقلاب کلمه د لابقا لفظ ته مقلوب شوی دی.

## ۱۶

# لغز

لغز دی ته وایی چی شاعر  د یو شی نوم واخلی یا یو سوال مطرح کړی او له مخاطبه یی پوښتنه وکړی چه دا څه شی دی. په دری کی ورته چیستان او په پښتو کی ورته  دوړی( لکی لرونکی  ی سره) وایی لکه په دی  غزل کی:

ژاړی کله کله مخ یی وچ لوند یی گریوان

عجبه مساله ده څواب راکړه په میدان

مړ شو یو سړی ورنه پاتی شوی دری ښځی

دیوی برخه هشتیک د بلی مهر شو نمایان

دریمه بی نصیبه شوه له مال ځنی محرومه

دا غوره مساله ده غور غواړی په ښه شان



۱۷

## معما

په معما کی شاعر د خپلی معشوقی نوم یا دبل شی نوم په بیت کی پټ او په رمز سره بیان کړی. که د تصحیف له لاری وی او یا د سلب او تشبیه په دود وی- په دی شرط سره چه د ښی طبعی سرابگاه څنی بهر نه وی او اطناب هم پکښی موجود نه وی لکه د محبوب صافی په دی څلوریزه کی :

که چیری ته غواړی د ښکلی یار تن

واړوه قلب د قلب منځ واخله په فن

ورته ښه ځیر شه شه په تقریر شه

که د ونه ایست نه د بولم قلمزن

د شاعر د معشوقی نوم په دی رباعی که د دو قلبونو سره بیان شوی:که لمړی (قلب) واړول شی (بلق) تری جوړیږی –او د دوهم (قلب) منځ څنی مراد د (ل) توری دی چه د ابجد په حساب سره په عدد سی (۳۰) راغلی او که سی مقلوب شی (یس) تری جوړیږی او که (یس) د (بلق) په پای که وصل شی د (بلقیس) نوم تری لاس ته راځی.

۱۸

## ذوالقافیتین

ذو القافیتین  دی ته وایی چه شاعر په خپل شعر کی دوه قافیی څنگ په څنگ راوړی لکه په لاندینی  رباعی کی.

کاشکی نه وای په نظر می ستا لقا شوم

پورته بولم په شرف کی زه له تا بوم

قواره ددی قیافی نه مخالف ده

ورځ پری غم شی که څوک واخلی ستا نوم

دلته په لمړی مسره کی (لقا – شوم) او په دوهمه مسره کی( له تا- بوم) او همدارنگه په څلورمه مسره کی ( ستا-نوم) دوه دوه قافی څنگ پر څنک په هره مسره کی را غلی.

۱۹

## ذوالقافیتین مع الحاجب

په دی لفظی صنعت کی شاعر د دوو قافیو په منځ کی ردیف ذکر کوی. مثال یی په لاندینی رباعی کی کتلی شو:

چه په سر کړی سور شال نګار رنګین

کاندی ما باندی فی الحال ګذار سنګین

به دغه دود می زوروی تل آشنا له نازه

رډ ورته ګورم زړه ملال فګار غمګین

په دغه پورتنی رباعی کی نګار- ګذار- افګار د شال رنګین – فی الحال سنګین ملال غمګین قافیو په منځ کی ردیف ګڼل کیږی.

۲۰

# تضمین

تضمین دی ته وایی چی شاعر په خپل شعرکی د بل شاعر یوه مسره یا کومه جمله د سند په توگه ذکر کاندی نه د غلا په دود. دغه مسره یا جمله باید د شاعر له مسرو څخه د خاصو علایمو په و سیله په څرگنده توگه جلا شی. غلا په دری ډوله دی:

۱. د توری شپی غل:

هغه سړی ته وایی چی د بل چا د شعر الفاظو ته لږ تغییر ورکړی. دا رنگه غله ته متقلب هم وایی.

۲. د سپینی ورځی غل:

د سپینی ورځی غل هغه ته وایی چی دبل چا مصمون یا شعر ځان

پور ی منسوب کړی.

۳. د خړی ورځی غل:

چی د بل چا د شعر معنی په بل عبارت سره راوړی او دا ډول غلا رواده ، خو ابتکار نه گڼل کیږی. دی ته توارد هم ویل کیږی. توارد په شعر کی روادی ځکه چه ددی عصر آثار ټول له توارد څخه مرتب دی او توارد دی ته وایی چه د متقدمینو ځنی الفاظ چه کثیر الوقوع وی او په خپلو آثارو کی یی راوړی دی او د نن عصر شاعران یی هم له ناچاری هغه الفاظ په خپلو آثارو کی استعمالوی. شعر ابتکار دی او له غلا نه پرته وی. که کومه جمله یا مسره د بلچا پکښی راوړی ښایی چه د اقتباس یا د اشتهاد په ډول ذکر شی لکه په دی رباعی کی چه محبوب صافی وایی او د (سدیدی) دا لاندینی مسره یی ( ور پسی یم پوست یی باسم له بدن) په خپله لاندینی رباعی کی تضمین راوړی:

زه بلبل یم تل مین په دی گلشن
سر می جار شه هزار بار له خپل وطن
چه کارغی بڼ ته مایل شی ور قاریزم
''ورپسی یم پوست یی باسم له بدن''

**د مهتمم یاددښت:** توارد کیدای شی غیر ارادی وی خو هم د اسلامی اصولو پر بنسټ او همدارنگه د اوسنی علمی اصولو سره سم هر هغه جمله یا کلمه چی د مولف- که شاعر وی که ناشر- نه وی او بل څوک یی د لمړی ځل لپاره په مستنده توگه - شفاهی یا کتابی- ویلی وی باید د هغه سړی معنوی ملکیت و گڼل شی. دا بیان یو امانت گڼل کیږی او باید هم په متن کی جلا په مشخصه توگه ولیکل شی او هم د شعر په پای کی د شاعر نوم ذکر شی. په قرآن کریم کی هم د پیغمبرانو خبری د هغوی له نوم سره جوخت ذکر شوی دی. په هر هیواد کی له دا رنگه معنوی ملکیتونو څخه د خاص قانون په وسیله چی د (کاپی رایت) قانون ورته ویل کیږی، ساتنه کیږی.
گران لو ستونکی کولای شی د لیوالتیا په صورت کی لاندینی اثر ته مراجعه وکړی: رهنمای ماخذ نگاری، ترجمه و تالیف م. نبی هیکل.دا کتاب په (پی. دی. اف. فارمت کی موندل کیږی.

۲۱

## رد المطلع

ردالمطلع دی ته وایی چه د غزل د لمړی بیت اوله یا دوهمه مسره د غزل په آخر کی تکرار وویل شی لکه په دی غزل کی:

د بگوی سترگو کی نه وی د نور آب

تل په ځان کړی د نرانو استجلاب

په پنځو روپیو خرڅ کړی خپل ایمان

شرم نه کړی د مخلوق له اغتیاب

لکه ښځه خال دړی کیږدی په مخ

شپه کړی تیره تر صبا په التعاب

زه حیران یم دی قوت طاقت ته

چه داولی نه شخیږی له اکباب

مخ یی ډک وی له غوښو ښه تازه وی

ورځ په ورځ یی مقوی گوری اعصاب

د بگوی سره صافیه تجلیس مه کړه

د بگوی سترگی کی نه وی د نور آب

۲۲

# مقطوع

کله چی د شعر ټولی توری جلا جلا توری وی هغه ته مقطوع ویل کیږی. د مقطوع مثال په لاندینی رباعی گوری:

## دل دار

دل دار دل آزار زر دار

ژر ژر ژاړی زار زار

دا د درد آواز اوف اوف

درد خو اور دی دوام دار

په دی رباعی کی هری کلمی توری جلا لیکل شوی او یوائی ( دل دار) او (دوام دار) په مرکب ډول هم لیکل کیږی، خو (دل) او (دار) او همدارنگه (دوام) او (دار) مستقل الفاظ دی.

۲۳

## حذف

حذف دی ته وایی چه شاعر په کومه مسره کی د شعر د توازن دپاره یو حرف یا دوه حرفه حذف کړی لکه په دی رباعی کی چه محبوب صافی وایی:


عشق ځپلی یم وجود می په لرزان دی
ځکه ننه می زړگی کی اور سوزان دی
که له ورایه خوک می خواته را نژدی شو
بیابه و وایی بیشکه دا نیران دی

په دوهمه مسره کی د (ننه) څخه (دننه) مطلب دی خو د (د) توری حذف شوی دی.

## ۲۴

## مشجر

مشجر ونی په شان ته وایی. په مشجر کی غزل دونی په شکل لیکل کیږی او په حقیقت کی دی ته  توشح جزو هم وایی چی د هری مسری په سر کی د خپل ممدوح د نوم توری په سلسله ذکر کاندی لکه په دی غزل کی:



# دویمە برخە

# قافیە

## سر ټکي

١ . د قافيې تعريف

٢. قافيې توری

٣.د قافيې د تورو حرکات

۴. د قافيې حدود

۵. د قافيې عيوب

## ۱
## د قافیې تعریف

قافیه په لغت کې وروسته او د غاړې پای ته وایي او په عربي

کښې (قفوت زیدا) بولي. یعنې زید پسې ولاړم- که د قافیې وروستي توري په نظم کښې تکرار شي نو (ردیف) یې بولي او قافیه د (ردیف) ترمخه توري ګڼل کیږي- لکه چه د محبوب صافي په لاندینې غزل کښې یې بیلګه ګورې.

شپول خو وتړه سپوږمې ځنې رنګین خط

اوس د مخکې نه ډولي شو عنبرین خط

سنبل و ګکوره ښایسته ښکاري بیاض کې

وار په وار د خلکو زړه وړي ښلین خط

دلته په دې پورتنې غزل کښې چه دوه بیته یې د مثال په توګه ذکر شوي دي- رنګین – عنبرین د قافیې توري ګڼل کیږي او د (خط) توري ردیف بلل کیږي.

## د قافیې شرطونه

شرط دی قافیه کې پنځه لاندې شیان

حروف د قافیې بل حرکات انواع روښان

حدود دي که عیوب را شه و کوه نظر

که دادې زده نه وي شاعر مه ګڼه خپل ځان

٢

د قافيې توری

## ٢. قافيې توری

مولف په لاندينی شعر کی د قافيې توری بيانوی:

قافيه لری نه توری درته وايم په دليل

اول روی دويم ردف بل قيد تاسيس دخيل

که وصل که خروج که زيد دی که ناير

معنی ته يی ور ځير شه که ځان بولی شاعر

١. تبصره:

روی د رسی په معنا او د قافيې کلمی د آخر/ وروستی توری ته وايی. د قافيې نور اته توری څخه څلور يی د روی تر مخه را ځی آو پاتی څلور يی د روی توری څخه وروسته راځی. هغه څلور توری چه د (روی) څخه تر مخه راځی دادی:

ردف او قيد تاسيس چلورم لوله دخيل

ړومبی راځی له رويه فکر غواړی ډير جزيل

وصل او خروج او مزيد ناير نامداره

راخی له رويه روسته ځان لدی کړه خبرداره

تبصره: که د (ردف) په تورو کی (الف-و-ی) د روی تر توری دمخه راشی هغه ته مردفه قافيه ويل کيږی په دی شرط سره چه د الف د توری تر مخه توری زيرناک وی لکه په لمړی مسره کی چه د (خ) توری د (ی) توری نه زيرناک راغلی دی- د رديف توری بلل کيږی ځکه چه قيد هم هغه ساکن توری ته وايی چه بی له فاصلی د روی توری تر مخه راشی مگر دا ساکن بايد (واو) يا (الف) نه وی بلکه دا رنگه توری د ی راوړل شی لکه جنگ-ننگ-درد-غبرگ-چرگ يا داسی نوری توری ښايی چه د الف تر مخه زور او د واو تر مخه پيښ او يا تر مخه زيرناک توری راوړل شی او د قيد د تورو اختلاف لکه بحر شهر روا دی

چه په قافیه کی ذکر شی تو پیر نه لری. د مخرج قربت هم شرط دیړ مگر دا اختلاف په غزل کښی ښه نه دی قبیح دی او په مثنوی او نورو نظمو نو کی روادی خو تحسین نه گڼل کیږی.

د قافیې د قید توری څوارلس دی- لکه چه به دا بیت کی ښودل شوی دی:

با یا قاف خا را زا سین شین

عین غین فا و نون ها و ضاد وایه یقین

تبصره:

که په ردف کی دوه ساکن توری له ردف څخه وروسته راشی په ردف کی داخل دی او دی ته ( زایده ردف) وایی او په پښتو کی د ردف واو یا په دوه ډوله راځی لکه معروف واو مجهوله یا او یا معروفه یا او مجهوله واو.

ردف پر دوه ډوله ددی:

۱. اصلی ردف: چه د مفرد (روی) تر مخه د علت غیر موصوله حرف (ا –و - ی ) وی.

۲ . زاید ردف: چه مرکب حرف د مفرد (روی) څخه مخکښی او یا وروسته د ردف اصلی څخه ذکر شی –او په دوه ډوله راځی لکه منقوط او غیر منقوط تورو سره راځی. د (ردف) او قید تورو په شکل کی کوم توپیر نشته او دواړه په یو شکل سره یادیږی.

د ردف بیلگه مخکښی ذکر شوی -نو اوس دلته د قید مثال په لاندینی بیت کی ولولی:

حسن ډوب کړمه د مینی په لوی بحر

عشق مجنون کړمه بیرون شومه له شهر

په پورتنی بیت کی د (ر) توری د (روی) توری په توگه راغلی او د (ح) توری د قید توری یادیږی – چه تعریف یی دمخه ښودل شوی دی.

۳ . تاسیس:هغه ساکن الف ته وایی چه د (روی) د توری ترمخه راشی مگر د تاسیس او د( روی) توری تر مینځ یو بل متحرک توری واسطه وی. تاسیس په قافیه کی د لزوم مالایلزم حکم لری که یی الزام وشی یا ونشی په قافیه کی نقص نه لری- لکه په دی بیت کی چه محبوب صافی وایی:

لازم دی هرچا ته د خپل ناموس ساتل

لدینه پورته نشته په دنیا کی بل حاصل

د پورتنی بیت په لمړی او دوهمه مسره کی د (الف) توری ساکن دی او د (تاسیس) توری ورته ویل کیږی او د (لام) توری چه ساکن دی د (روی) توری واقع شوی. د(ت) توری متحرک دی چه د تاسیس او د (روی) توری ترمینځ یوه واسطه ګنل کیږی.

۴. دخیل: هغه متحرک توری ته وایی چه د (روی) او د (تاسیس) په مینځ کی واسطه وی لکه په دی بیت کی چه محبوب صافی وایی:

هغه ندی په دنیا کی دلاور

چه یی کړه وی په شان د ځناور

دلته په دواړو مسرو کی د (واو) توری د د خیل توری دی.

هغه څلور توری چه د (روی) توری څخه وروسته راځی مثالونه یی په لاندینی دول سره ښودل کیږی.

۱ . وصل: هغه ته وایی چه بی له فاصلی څخه د (روی) توری ځنی وروسته راشی که د اضافت یا د نسبت یا د جمع یا د تصغیر یا د رابطی توری وی توپیر نه لری. بیلګه یی په لانینی بیت کی وګوری:

خبردار شی ګاونډیو له غمجنو

بی غم عیش کړی په بنګلو کی ښادمنو

دلته په لمړی او دوهمه مسره کی د غمجنو او ښادمنو د (واو) توری د وصل توری دی او د (ن) توری چه د (روی) توری بلل کیږی ترینه وروسته راغلی دی.

۲. خروج: هغه توری ته وایی چه پرته له فاصلی څخه د (روی) توری څخه وروسته راشی لکه د محبوب صافی په لاندینی بیت کی:

تا بیا په تور اوربل ایښی ګلونه دی

مخ د را څرګند کړه دامی سوالونه دی

دلته په دواړو مسرو کی د (ل) توری د (روی) توری - (و) د وصل توری او (ن) د (خروج) توری او (ه) د (مزید ) توری –او (ی) د (نایر ) توری توی ګڼل کیږی.

۳. مزید: هغه دی چه تر خروج وروسته راشی:

۴. نایر: هغه دی چه بیله فاصلی نه تر مزید وروسته راشی. د (مزید) او (نایر) مثالونه په پورتنی بیت کی وښودل شول.

# ۳

# د قافیې د تورو حرکات

د قافیې د تورو حرکات شپږ دي. نومونه یې په لاندینی نظم کی نومول شوی دي:

دقافیې حرکات یاره شپږ دی په شمار

وایه رس اشباع حذو مجری وایه په تکرار

شپږم یې نفاذ که یې غواړې حقیقت

په باب د شاعری کی لری ډیر فضیلت

رس د تاسیس ځینی دمخه حرکت دی

تل د اشباع په دخیل کی دخالت دی

د ردف تورو تحریک ته حذو وایې

د ساکن روی حرکت توجیه ستایې

حرکت د روی مجری بوله هشیاره

نفاذ تل ګڼه په وصل کی رویداره

د توجیه مثال:

په خیر راغلی دلبره له سفر

ما ستا راتلو ته تل کوه نظر

دلته د سفر په کلمه کی د (ف) توری حرکت لری.

د تاسیس مثال:

په اټکل سره خپل ځان بولی فاضل

حقیقت کی یو وګړی یې جاهل

دا ژوندون دی ناتمام دی نظر وکړه

که شوی مړ بیا به هلته  شی کامل

دلته د (ف) توری ساکن (الف) تاسیس دی.

دمجری مثال:

رخصت غواړمه دوستانو کور ته ځمه

زه لاروی یم دلته نور نه اوسمه

دلته د (ه) توری حرکت لری.

د نفاذ مثال:

سړیتوب خو میسریږی په پوهنه

په دنیا کی فلاکت دی ناپوهنه

نفاذ خو حرکت بوله د وصل

په پښتو پارسی که نشته دغه فصل

د پورتنی  نظم په لمړی مسره کی د (ن) حرکت وصل  او (ه) خروج دی- ځکه چه نفاذ د وصل حرکاتو ته وایی او په پښتو او پارسی کی د وصل حرکت  شرط ندی که خروج راغلی وی حرکت یی لازم وی او که نه غړوندی یی هم  جایز دی –لکه په دی مثال کی:

ته پښتون یی د تا پلار وه هم پښتون

دپردو لاس لاندی ولی کړی ژوندون

راشه واوره ته اقسام د قوافی

مقیده او مطلقه ده کافی

حرکت د روی ته تل وایی مطلقه

ساکن روی مقید دی خبر شه له دی شقه

که د روی توری ذکر شول  یوازی

داده مجرد ده دواړه سترگی د کړه وازی

# ۴. د قافيي حدود

لاندينی نظم د قوافی  دحدود او ډولونه بيانوی.

حدود د قوافی پنځه ډوله دی راغلی

ادبيه په دی پوه شه ما کتاب کی دا ليدلی

**۱. مترادفه قافيه:** په مترادفه قافيه کی دوه  ساکنه توری له فاصلی پرته راوړل  کيږی لکه ډير- هير-شان -خروشان چه (الف) او (ن) يی يو تر بله  ساکن واقع شوی وی.

**۲. متواتره قافيه:** په متواتره قافيه کی يو متحرک د  دوه  ساکنو تورو په مينځ کی واسطه وی لکه  په (محکم)- محرم – اعظم کی د (ح) او (ع) توری.

**۳. متدارکه قافيه:** کله چه د دوو ساکنو په مينځ کی دوه متحرکه توری راوړل شی  هغه ته متدارکه قافيه ويل کيږی.

**۴. متراکبه قافيه:** چه دری متحرکی توری د دوو  ساکنو تورو په مينځ کی راوړل شی. تراکب يو پر بل کشيناستل دی لکه: ورک والی شکنځل.

**۵. متکاوسه قافيه:**چه څلور متحرکی توری د دوه ساکنو تورو په مينځ کی راوړل شی. دا قافيه عربی پوری اړه لری.

## ۵. د قافیې عیوب

د قافیې عیوب ډیر دی خو مشهور یې دا اته دی:

۱. **افوا:** د (روی) د حرکت اختلاف ته افوا وایی لکه: توری او گوری.

۲ . اکفا: د (روی) تورو اختلاف ته وایی. دا دیر بد عیب دی لکه: رقاص – خناس – ټک – ټگ راوړل شی.

۳. سناد: د (ردف) اختلاف ته وایی لکه کمار او کور. دا په پښتو او پارسی کی عیب دی مگر په عربی کی روا دی لکه: جمیل او نزول.

۴. ایطا: د قافیې آخر توری تکرار ته وایی او دا پر دوه ډوله دی: جلی او خفی.

که د قافیې آخرنی توری تکرار ښکاره وی نو هغه ته جلی وایی لکه ستمگر - خوا ستمگر. دا عیب دی.

خفی هغه ته وایی چه تکرار یی ښکاره نه وی لکه دانا – نیا.

۵. تضمین: هغه دی چه لمړی بیت یی بی له دوهم بیت څخه معنی پوره نه کاندی.

٦. اجازه: هغه حالت ته وایی چه دوه مختلفه (روی) سره راوړل شی لکه کاسب فاضل.

۷. غلو: کله چه (روی) توری یو ځای متحرکم او بل ځای ساکن راوړل شی.

۸. عدول: عدول دوه ډوله دی: یو د وزن د روغوالی لپاره په لغت کی تصرف کول دی – او بل دا چه شاعر په قصیده کی د یوی قافیې نه بلی قافیې ته ولاړشی. که شاعر د قصیدی په مینځ کی تغییر ته اشاره وکاندی عیب ندی او د ځانه څخه د شعر په پای کښی لغت جوړول او اضافه کول او یا د لغت معنی گرځول هم عدول گڼل کیږی. عدول په معنی د گرځیدو راغلی دی.

تمت بالخیر